بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيم
د مولانا سعيد افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان
www.said-afghani.org
آزاده، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان




د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، تولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست !

## پروفیسور عبدالله بختاني «خدمتګار»



تاريخ نشر : 14 مى 2015 م

# د ويښ زلمو په لار

د سعيد افغاني د مولوى كيدو په كال ، د « 1325 ه ش » د دلو په « 25 مه » په ننګرهار كښې دويښ زلميانو ډله جوړه شوه، او څو چه كال پوره كيده په ټول هيواد كښې يې ملګرى پيدا كړل .

دا يو سياسي ، اجتماعي او ادبي حركت و چه له ظلم ، استبداد ، رشوت خورى ، سود خورى ، مزخرفو دودونو اورواجونو سره يې مبارزه كوله او دعلم او پوهنې د تعميم او پراختيا او زمونږ د ګران تاريخي هيواد د ټو لو اوسيدونكو ترمنځ يې د ملي وحدت په ټينګښت باندې ټينګار كاوه.

دى حركت په متشكل او منظم ډول تر « 1331 ه ش » كاله پورى دوام موندلى دى . داخلي او خارجي ارتجاعي محافلو اوعناصرو په دى جريان سره مخالفت كاوه او دهغه د غړو د بدناملو او بى ليارى كولو لپاره يې هڅه كوله.

د وخت استبداد حكومت د چل، زور او نورو دسيسو په خوا كښې ، دا كوښښ هم كاوه چه په هيواد كښې د دينى پوهنو طالبان ، عالمان او روحانيان د ويښ زلميانو په غاره واچوى .

دوى سره ونښلوى او پخپله د خير په غوندى كښينى او په دى هيواد كښې پر اوسيدونكو خلق الله باندى استبدادى حكومت و چلوى ځينو په نامه روحانى عناصرو څه ناڅه دا دنده ترسره كړه.
مګر په هيواد كښې زيات شمير و طنپال ملايان ، مولويان او پيران د ويښ زلميانو په خوا كښې ولاړ وو. د بيلګى په ډول:
د كامى مرحوم سيد سرور « قارى » ، د قرآن كريم حافظ رسيدلى ملا ، ليكوال او شاعر ، اولسي،

اجتماعي ، او روحاني شخصيت چه څو څله د کامی د ولسوالی د شریفو خلکو له خوا ،ننگرهار د ولایت د مشوری د وکیل په توګه انتخاب شوی و او د ننګرهار د دارالحفاظ موسس، مدیر او استادو ، همدارزنګه د کندهار مشهور اجتماعي او روحاني شخصیت محمد یوسف « مجددی » او ستر دینی عالم ، د مزارشریف د اسدیه مدرسی د دار العلوم مدیر او استاد، لیکوال او مترجم مرحوم مولوی عبیدالله « صافی » ، مشهور ویښ زلمیان او زمونږ فعال او تکړه ملګری وو .

یا مشهور دینی عالم مرشد ، علمي ، روحاني ، اولسي او اجتماعي شخصیت ، د تګاو اخوند زاده مرحوم مولوی حمیدالله صاحب په وینا او عمل کښی زموږ د ډلی ډیر حمایت او ننګه کړی ده.

یا مشهور دیني عالم د سلطنتي استبداد ضد، علمي ،سیاسي او اجتماعي شخصیت، مولوی قاضی محمد بهرام د کندهار چه د هغوی څېرو، صحبتونو او مشورو دویښ زلمیانو د حرکت په لاره کښی ستر اغیزه درلود. زه اوس هم دغو نوموړه ښاغلو و طنپالو ، دینی عالمانو او روحا نیانو ته د احترام سر ټیتوم او دهغو په درنو نومونو ویاړم.

د کابل د عربی دار العلوم، د ننګرهار د نجم المدارس ، د مزار شریف د اسدیه مدرسی او نورو دینی مدرسو یو شمیر نور زلمي شاګردان هم ویښ زلمیان وو، چه په دی نهضت کښی یی جوش او خروش پیدا کړی و.

د ویښ زلمیانو د فعالیت په موده ، د مولوی محمد سعید افغاني ، د کار ، استادی او لیکوالی لومړنی و ختونه وو.
که څه هم دی د ډلی رسمی ملګری نه و، مګر مونږ چه ګورو، د ده دهغه وخت لیکنې دو یښ زلمیانو د مرام د محتوا له روحییی نه ډک وو. په هماغه سمت یی قدم ایښی، قلم چلولی او د ضرورت په وخت یی عملاً مونږ سره مرسته کړی ده.

عبدالله بختاني « خدمتګار »
خیرخانه مینه ـ کابل

www.said-afghani.org – بازگشت به صفحه اصلی